د افغانستان اسلامی امــارت
د کانونو او پټرولـیم وزارت

# د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه




ګڼه: ۳۸

نېټه: ۰۸/زمری/۱۴۰۱



# سرپرست وزارت معادن و پترولیم با سفیر کشور جاپان دیدار کرد




شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم، یکشنبه مورخ ۹ /۵ /۱۴۰۱ در دفتر کاری اش با محترم تاکاشی اوکادا سفیر کشور جاپان دیدار نمود و روی موضوعات مختلف بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

ابتداء آقای تاکاشی اوکادا به روابط دیرینه جاپان و افغانستان اشاره نموده گفت: جاپان مایل است مردم افغانستان را در بخش های مختلف کمک و همکاری کند.

سرپرست وزارت معادن و پترولیم ضمن عرض خیر مقدم، به آقای تاکاشی اوکادا در مورد سرمایه گذاری روی معادن افغانستان و همچنان در مورد دوستی تاریخی و دیرینه افغانستان و کشور جاپان بحث و تبادل نظر نمودند.

سرپرست وزارت معادن و پترولیم گفت : اکنون امنیت درسراسر کشور تأمین گردیده و بسیار به سهولت می توانیم از یک ولایت به ولایت دیگر بدون هیچ نوع خطری سفر نمائیم، بناًء از کشور جاپان و تمامي سرمایه گذاران ملی و بین المللی که بخواهند در افغانستان در بخش معادن سرمایه گذاری نمایند ما زمینه سرمایه گذاري را برای آن ها مهیا خواهیم ساخت . سرپرست وزارت معادن و پترولیم همچنان افزودند: در حصه تعلیم وتحصیل زنان از طرف حکومت فعلی هیچ نوع ممانعت وجود ندارد و تلاش جدی صورت میگیرد تا زمینه بهتر آموزش و کار برای خانم ها مساعد شود.

در اخیر سرپرست وزارت معادن و پترولیم از کمک های کشور جاپان اظهار امتنان نموده گفت: این کشور به دنبال روابط مثبت با همه کشورهای جهان میباشد.

# د کانونو او پټرولیم وزارت د یو کال لاسته راوړنو راپور وړاندې کړ

د کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه



د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست وزیر شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور، تخنیکي معین انجنیر وحیدالله حلیمي او د پلان او پالیسۍ معین شیخ ضیاءالرحمن اریوبي په شتون کې د دولت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د یو خبري کنفرانس له لارې د یاد وزارات د یو کال د فعالیتونو او لاسته راوړنو راپور سه شنبه ۵ /۱۱ /۱۴۰۱ نېټې د رسنیو له لارې خلکو ته وړاندې کړ.

په دغه کنفرانس کې د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر وویل: د کانونو او پټرولیم وزارت د پالیسۍ جوړوني څانګه، چې اصلي دنده یې د پالیسیو طرحه کول، د کانونو د چارو تنظیمول او په دې برخه کې د خپلو فعالیتونو کنټرول دی، له شته امکاناتو څخه په استفادې او د هېواد اوسني اقتصادي او ټولنیزو شرایطو او د دې سکتور د لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره یې په دې برخه کې پراختیایي پروګرامونه او لازم اصلاحات پلان او پلي کړي، چې الحمدالله په بېلا بېلو برخو کې یې د پام وړ پایلې ترلاسه کړې دي . همدارنګه ښاغلي شېخ الحدیث صاحب د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي لیدلورۍ، د کانونو او پټرولیم وزارت د لیدلورۍ، د کانونو او پټرولیم وزارت د عمده لاسته راوړنو، په اداره او بودیجه کې اصلاحات، د کوچني کانونو د قراردادونو، د لوی کانونو د قراردادونو، د کټواز د تېلو ساحې هوايي سروې پروژې، د قشقري تېلو استخراج. د کانونو د سروې تر سره کولو، د مس عینک پروژې، د تاپي پروژې، پلانونه، پالیسیانو او د روڼتیا برابرول او د راتلونکو پلانونو، برنامو اوذکر شویو موضوعاتو په اړه خبرې وکړې او یادونه یې وکړه، چې د افغانستان د اسلامي امارت له حاکمیت څخه تر اوس مهاله د کانونو او پټرولیم وزارت ټول یو کلن عواید (۱۳،۲۰۹،۲۷۴،۴۷۶ ) دیارلس اعشاریه دوه ملیارده افغانۍ کیږي، چې له دې جملې څخه ( ۱۱۱،۹۰۰،۴۳۹ ) میلیونه افغانۍ د جمهوریت د شیږو میاشتو دي خبرې وکړې.

له نیکه مرغه د افغانستان د اسلامي امارت په راتګ او د کانونو او پټرولیم وزارت د مسولینو د زیاتو هڅو په پایله کې دغه وزارت د پورونو یوه لویه برخه چې د ۱۳۸۳ څخه تر ۱۴۰۰ کلونو په جریان کې د کانونو د استخراج په برخه کې پر شرکتونو و چې یاد وزارت نه وه راټول کړي اوس مو تعقیب او راټول کړي . په پای کې د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د رسنیو پوښتنو ته ځوابونه وویل.

# د ټاپي ګاز نللیکې له اجرائیوي رئیس سره د کانونو او پټرولیم وزرات سرپرست لیدنه





کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه

د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر ښاغلي شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور، د هرات والي ښاغلي مولوي نور احمد اسلام جار، د بهرنیو چارو وزارت، عدلیه وزارت، زراعت او مالدارۍ وزارت، مالیه وزارت، د چاپیریال ساتنې ادارې، د افغانستان بانک، د اراضۍ او افغان ګاز ادارو د استازو په شتون د ټاپي ګاز نللیکې کمپنۍ له اجرائیوي رئیس محمد امانوف او مل پلوي سره نن شنبه ۵/۲۲/ ۱۴۰۱ نېټې د وزارت په مقام کې سره وکتل.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست په پیل کې ټولو راغلو مېلمنو ته ښه راغلاست وویل او د دواړو هېوادونو د اوږدمهاله او تاریخي دوستۍ په اړه یې خبرې وکړې او زیاته یې کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت د یادې پروژې د پیل او امنیت تینګوالي لپاره چمتو دی .او همدارنګه د ټاپي پروژې د اقتصادي، سیاسي او تخنیکي مسایلو تر څنګ د افغانستان او ترکمنستان تر منځ د ټاپي پروژې پر توافق او د پروژې د بهیر پر پرمختګ او د دولتي او خصوصي ځمکو د استملاک په تړاو خبرې اترې وشوې.


د ټاپي پروژې اجرائیه رئیس د خپل هېواد په استازیتوب د دغې پروژې د تطبیق په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت په ځانګړي ډول د کانونو او پټرولیم وزارت له مرستو او همکاریو مننه وکړه او له افغانستان سره یې د خپلو همکاریو پر دوام ټینګار وکړ. نوموړي زیاته کړه ترکمنستان هېواد نه یوازې د ټاپي د ګازو لېږد لین د جوړولو په برخه کې بلکې د برېښنا، رېل پټلۍ، فایبر نوری او د تطبیق وړ نورو پروژو په برخه کې چې د دواړو هیوادونو د ښه اړیکو په برخه کې ډېرې مهمې دي لیوال دي او زیاته یې کړه چې د نوموړې پروژې د تطبیق سره به افغانستان د ترانزیټ له اړخه ۴۰۰ میلیونه ډالره کلنی عاید ولري او له ۱۵۰۰۰ څخه زیات افغانان به په ساختماني چارو کې په کار وګمارل شي. او همدارنګه یې د ټولنیزو برنامو، د څښاک د پاکو اوبو څاګانو، روغتیایي کلینکونه، صنعتي ښارګوټي او ورته نورو برنامو په اړه خبرې وکړې .په پای کې د یادو ادارو استازو د ټاپي پروژې د تطبیق په اړه خپل نظرونه څرګند کړل.

# د ارزګان ولایت کاني ظواهر

ارزګان ولایت د شمال له لوري له دایکندي ولایت، په ختیځ کې له غزني ولایت، په سویل ختیځ کې له زابل ولایت، په سویل کې له کندهار ولایت او په لویدیځ کې له هلمند ولایت سره ګډه پوله لري.

د احصایې او معلوماتو ملي ادارې د کلني نفوس اټکل له مخې د دې ولایت نفوس شاوخوا (۴۳۶،۰۷۹) تنو ته رسیږي.

د افغانستان جیولوژۍ او د کانونو اړوندې ادارې له خوا د تر سره شوو سروې ګانو له مخې دا ولایت بې شمېره معدني ظواهر او کانونه لري. چې له هغې جملې څخه د ارزګان په سیمه کې مس، په دریوشینګ او کوچک کې تنګستن، په ګل کدم او درواز کې سیماب، باخود کې فلوریټ، په کنګ کې مسکویت، او په کوهي سوهي کې بسموت موقعیت لري.




کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

د کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د کانونو او پټرولیم وزارت عواید




د کانونو او پټرولیم وزارت په یوه اونۍ کې د ۱۳ /۵ /۱۴۰۱ نېټې څخه تر ۱۹ /۵ /۱۴۰۱ نېټې پورې (235,875,091) دوه سوه پنځه د پرش میلیونه، اته سوه پنځه اویا زره او یو نوي افغانۍ عواید را ټول کړي.

ادرس: عبدالحق ځلورلاري، کابل، افغانستان
د اړیکو شمیره: +93202304455
الکترونیکي پته: www.momp.gov.af
ایمیل ادرس: PR@momp.govaf

د امتیاز خاوند: د کانونو او پټرولیم وزارت
مسوول مدیر: شمس الدین (مصلح)
ترتیب او تنظیم : استاد نجیب الله (رحیمي)
طرح او ډیزاین: محمد فرهاد (عبیدي) او مطیع الله (سحر)